

(اخري برخه)

# پښتانۀ

(د غني خان د کتاب ترجمه)

لسم باب

## سیاست

ترجمه: عابد خان

پښتانۀ په سلو کښې دوه کم سل بې تعليمه او بې سواده دي او يو ليکلے شوے تحرير دوي ته هيڅ هم نۀ وائي. ځکه باچاخان به کلي په کلي ګرځېدو او دوي ته به ئې ښې خبرې او تقريرونه کول. د هغوي ملګرو چې وکتل چې په دغه ګرمۍ او جلسو کښې د هغوي سپينې جامې زر خيرنې شي نو هغوي فېصله وکړه چې رنګ ورله ورکړي. په دوي کښې يو کس خپلې جامې د نښترو د پټ په هغه ګړوبي کښې غُوپه کړې کوم چې د څرمنې د رنګ کولو په کار راځي. د هغۀ د جامو رنګ ډوب سُور راوختو نورو ملګرو ئې هم دغسې وکړل او د ټولو جامې ډوبې سرې شوې. کله چې د دوي يو ټولګے په جلوس کښې روان شو نو د دوي د جامو دغه ناشنا او عجيبه شان رنګ د کليوالو دپاره يوه ننداره شوه او هغوي ورته راغونډ شول، خلقو په پټو کښې خپلې يوې او غوايان داسې پرېښودل او د دوي خوا له راغلل چې دا "سرخپوشان" د نزدې نه وويني. داسې د باچاخان د سرخپوشانو ډلې ته خلق راغونډ ېدل، دوي ئې ليدل اوريدل او زړونه ئې فتح کېدل، باچاخان هم دغه سُور رنګ د خپلو کارکنانو دپاره خوښ کړو چا ته چې به هغۀ خدائي خدمتګار وې. د هغوي مرام ازادي او خپلواکي وه او لاره او نعره ئې وه خدمت!

ما تاسو ته د باچا خان يوه قدرې اوږده خاکه وړاندې کړه او دا ځکه چې هغه په خپله د پښتون د ټول سياست مرکز دے. هغه پښتانۀ پېژني او پښتانۀ هغه پېژني او تاسو په صحيح معنو کښې نۀ خو دا يو پېژندے شئ او نۀ دا بل، تر څو چې تاسو په خپله پښتانۀ نۀ يئ.

باچا خان اوس يو زوړ سړے دے هغه سلورې سپينه ږيره او اوږدۀ ښکلي لاسونه لري، تاسو کۀ



چرې د هغۀ ليدو له ورغلئ نو د هغۀ مهربانه شنو سترګو ته په غور وګورئ. تاسو به د پښتنو د سياست په حقله هغې نه زيات زده کړئ کوم



څۀ چې به زۀ په زرګونو بابونو ليکلو تاسو ته وښودے شم.

ځکه چې په انسان کښې چې کوم مقدس ترين او لطيف ترين شے دے هغه هغومره ناقابل بيان دے لکه څنګه چې د ستورو د کهکشان او د سپوږمۍ پسته رڼا په لفظونو کښې نۀ شي بيانېدې. مينه، خُوږ او مهرباني په ټکو کښې قېدول هغه هومره ناممکن دي څومره چې ئې د پېرنګي په جېل کښې قېدول. باچا خان د خپل قام په خدمت کښې په عملي توګه دا سبق زده کړے ؤ. چې مينه په يوه لحظه کښې د هغې نه ډېر څۀ تخليق کولے شي، څومره څۀ چې ايټم بمونه په صدو کښې نۀ شي کولے او دا سبق چې د ټولو عظيم طاقت هغه وي کوم چې تر ټولو مهربانه او مينه ناک وي او دا چې د مړانې او نرتوب ايکي يوه لار د حق او نېکۍ لار ده او دا چې يو پاک او لوئے خوب د ژوند او د بچو د ښکلي پستو سترګو نه هم خوږ وي. دا هغه خبرې وې چې هغۀ په عملي تجربه زده کړې وې او هم دا هغه خبرې وې کومې چې هغه پښتنو ته ښودلي دي.

## "اخيري خبرې"

زۀ د خپلې قيصې اختتام ته رارسېدلے يم. زۀ هيله لرم چې تاسو له به د پښتنو دې قيصې اورېدو هم هغه هومره خوند درکړے وي څومره چې ئې ماله په وئيلو کښې راکړو. لوستل د اورېدلو يو مهذبه او ترقي يافته صورت دے. لکه څنګه چې ليکل د وئيلو يو پيچيده او جديد شکل دے.

ما کوشش وکړو چې تاسو ته د خپلو خلقو په حقله يو څو خبرې وکړم. زۀ دا دعوىٰ نۀ کوم چې زما دغه خبرې ببخي معروضي او د عصبيت او طرفدارۍ نه مکمل پاکې دي. ځکه چې زۀ څۀ کاڼے يا لوُټه نۀ يم.

هر خيال، هر فکر د يو تعصب، يوې جانبدارۍ اظهار دے. صرف تخليقي سر مستي او فنکارانه تحريک د تعصب نه بالاتر کېدے شي او ځکه د خيال او فکر نه هم بالاتر وي. ولې تر څو چې د عام انسان خبره ده نو تعصب او جانبداري خو د هغۀ دپاره د مور پۍ دي او دا حقيقت چې څومره زر ومنئ هومره ښه ده. زۀ چې کله ستاسو د هائي کورټ جج ته ګورم چې ډېر سنجيده او معروضي شان مخ ئې نيولے وي، بهترين وګ ئې په سر کړے وي او "د تعصب او طرفدارۍ نه ببخي پاک" انصاف کوي نو ما ته خپله خندا رقابو کول ګران شي. نۀ! زۀ دغه د دروغو دعوې او دغه ډرامې نۀ شم کولې. زۀ يو پښتون يم او ما له ښائي چې په ايماندارۍ او په جار رښتيا ووايم او ځکه زۀ دا اعتراف کوم چې زۀ د خپلو خلقو، د پښتنو په حق کښې طرفداره هم يم او متعصب هم او کۀ چرې زۀ داسې نۀ وے نو زما به د ځان نه نفرت ؤ.

ما تاسو ته د پښتنو خپل يو عکس وړاندې کړو، ظاهره خبره ده چې د بل چا تصوير به مې درته



ځنګه وړاندې کوو. زهٔ د هغوي د مرګ ژوبلې او ظلم او وحشت، د هغوي د جهالت او غربت باوجود په پښتنو مئين يم. ځکه چې کهٔ پښتون جنګ او يا مرګ کوي نو د يو اصول د پاره ئې کوي او بيا ئې دا پروا نهٔ کوي چې څوک هغهٔ ته قاتل وائي. پښتون يو لوئے جمهوريت پسند "Democrate" دے هغوي متل کوي چې "پښتانهٔ د للمې غنم دي- ټول په يوه ورځ راټوکېدلي دي او ځکه ټول يو شان او يو برابر دي".

مونږ چې به د خپل سرخپوش تحريک په ورځو کښې د يو پښتون قصاب يا جولا په سينه د جنرل بېج لګوو نو هغه به شرمېدو يا کچه کېدو نهٔ بلکې خندل به ئې. د "يو پښتون لاسونه کهٔ هر څومره زيږ زيږ او يا خيرن وي خو هغه به ئې د يو بادشاه سره ملاوهلو له هم ور وړاندې کوي. د هغهٔ د کور ډوډۍ کهٔ هر څومره معمولي وي خو هغه به يو شهنشاه له هم په ډاډه زړهٔ د ډوډۍ دعوت ورکوي". زما د ډوډۍ کموالي او سختوالي ته مهٔ ګوره "هغه خپل مېلمه ته وائي" زما د سترګو مينې او ګرمۍ ته ګوره".

خو زما پښتون په دې ډېر خوښ دے چې کله هغه جنګ له او خپل سر ورکولو له ځي نو هغه ورځ هغه خپل مخ پاک ووينځي، په وېښتو کښې تېل او خوشبو ولګوي او خپلې تر ټولو ښکلې جامې واغوندي. په اصل کښې دا ساده ماشوم غواړي چې دې حورو ته ښکلے ښکاره شي. هغه سوچ کوي چې د خدائے پاک هم سخا جامې او خېرن مخ دومره بدي شي څومره چې د دهٔ بدي شي. ځکه هغه ځان پاک او ښکلے کړي او سندره وائي:

"هغه وائي چې خدائے پاک  
ښهٔ دے او خوږ دے،  
هغه چا ته څوک چې مُسېږي او خاندي  
او سندرې وائي او مري  
هغه وائي چې بزدلان  
ژاړي او کار او محنت کوي  
خو تنګيالي او جنګيالي ښېغ جنت ته ځي"



زهٔ يقيناً چې د پښتنو طرفداره يم او امېد کوم چې اوس به تاسو هم د هغوي طرفداره شوي يئ.